افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Satire | طنز |
| --- | --- |

عزیز نسین
ژباړه: فرهاد ویاړ
۰۳ اگست ۲۰۱۸

# د مُلا پیښه

شاوخوا شپیته کاله مخکي یو ملا یو کلي ته لاړ. د کلي د زاړه جومات په لیدو پوه شو چي خلک یې مسلمانان دي. په خوشحالی د کلي ارباب ته لاړ او ورته یې وویل چي کولای شي د خلکو امامت وکړي. ارباب چي کلونه کلونه لمونځ نه و کړی او د جماعت لمونځ یې په عمر لیدلی هم نه و له ځان سره یې فکر وکړ که ملا ته ووایي چي لمونځ ورته زده نه دی نو دا به ډیر بده خبره وي. ځان یې چپ ونیو او د ملا سره یې د امامت لپاره د هو سر وخوځاوه.

ارباب په هماغه شپه د کلي خلک راټول کړل او د ملا امام د راتګ خبره یې له هغوی سره شریکه کړه. بیا یې وویل چي دې په خپله خو د لمانځه په قواعدو نه پوهیږي او له کلیوالو یې پوښتنه وکړه چي ستاسو په منځ کي څوک د لمانځه په قواعدو پوهیږي؟

د خلکو په سترګو کي حیرانتیا ښکاره کیده او دا د ارباب ځواب و.

بالاخره د کلیوالو په منځ کي یو بوډا وویل:«په څه چي زه پوهیږم دا دي چي اړینه نه ده چي د مسلمانتیا لپاره دې ته په خپله په هر څه پوه شی، همدا کافی ده چي هر څه چي ملا امام وکړي، مونږ هم همغسی وکړو».

د دې حل لارې سره، د ټولو اندیښنه لیرې شوه او د لمانځه لپاره زاړه جومات ته رهي شول.

ملا د کتار مخې ته ودرید او ټول کلیوال د هغه شاته ودریدل. ملا لاسونه خپلو غوږونو ته پورته کړل او یوه زمزمه یې وکړه، خلکو هم خپل لاسونه پورته کړل او دا چي نه پوهیدل چي ملا دقیقا څه ویلي دي، نو هر یو له ځان سره بنګهاری وکړ. ملا خپل لاسونه کښته واچول او په اوچت آواز یې وویل: الله اکبر. خلک چي خوشحاله شوي وو چي په یو څه پوه شوي دي نو دوی هم د الله اکبر غږ تکرار کړ. بیا ملا د ژبې لاندې یو څه وویل، خلکو هم د ژبې لاندې پسهاری وکړ. ملا خپل لاسونه په زنګنونو کینودل او څه یې وویل، خلکو هم خپل لاسونه په زنګنونو کینودل او له ځان سره یې پُس پُس وکړ. ملا بیا ودرید او وی ویل: الله اکبر، خلک هم ودریدل او د الله اکبر فریاد یې وکړ. ملا پر خاوره ولید او د ژبې لاندې یې یو څه له ځان سره وویل، خلک هم پر خاورو ولیدل او هر یو د ژبې لاندې یو څه زمزمه کړل. ملا پر دوو زنګنونو کښیناست، خلک هم په زنګنونو شول، په دې وخت کي د ځمکي پر سر د دوو تختو د چاوو تر منځ د ملا پښه ونیول شوه او چیغه یې کړه:آآآآآآآآآآخ. خلکو هم په خوشحالی سره چیغي کړی:آآآآآآآآآآخ.

ملا چي هڅه کوله خپله پښه د تختو له چاوو څه راوباسي، کله به يي ځان کيږ خوا ته واچو او کله هم ښي خوا ته چي د تختو چاوو خلاص کړي، خلکو هم کله ځانونه کيږ او کله هم ښي خواته ټيټول او په لاسونه به يي ځمکه ډبوله.

ملا چيغې وهلی:«خدايه! راسره مرسته وکړه» خلکو هم د هغه شاته د خدای درگاه ته زاري کوله.

ملا چيغې وهلی:«ای نادانه خلکو ړانده ياست چي زما وضعيت نه گوری؟»

خلکو هم د ملا شا ته د همدې عبارت چيغه وهله.

ملا له درد څخه پر ځمکه خپلې منگولی کاږلی او له خدای يي مرسته غوښتله. خلکو هم ځمکه نوکار کوله او له خدای يي مرسته غوښته.

بالاخره له درې څلورو دقيقو وروسته ملا خپله پښه خوشي کړه او په داسي حال کي چي له درده تاويدو، خلکو ته يي وکتل او له ډير درده بی هوښه شو.

خلکو هم يو بل ته وکتل او ځانونه يې پر ځمکه واچول او دومره په دغه حالت کې پاتی شول تر هغه چي ملا په هوښ راغی. ملا چي دې پايلې ته رسيدلی و چي غلط کلي ته راغلی دی، بی له دې چي څه ووايي کلی يي پريښود او لاړ.

له هماغه ورځ تر ننه پورې په دغه کلي کي د جماعت لمونځ تر سره کيږي، خو د خلکو چي د الله اکبر تر منځ ذکرونو ته پام شوی نه و، ذکرونه نه وايي او په بدل کي د لمونځ پای په پرتمينه توگه تر سره کوي او تر ننه پورې د هغوي د لمانځه د وروستيو اعمالو د فلسفې په اړه ۱۲ کتابونه چاپ شوي دي.

البته په دغه کلي کي له اصولو څخه ځيني کوچني انحرافات رامينځته شوي او دمگړی هغوې په ۲۲ فرقو باندې ويشل شوي دي، ځيني باور لري چي پر ځمکي د نوکارو لپاره بايد ځمکه په لرگي پوښل شوي وي، ځيني باورمن دي چي پر هر څه نوکاری جايز دي.ځيني معتقد دي چي له لمانځه وروسته د بيهوښی موده چي هر څومره وغزوی خدای ته هغومره نژدی کيږی او ځيني بيا باور لري چي مهمه خبره د بی هوښی ځرنگوالی دی نه وخت.

لنډه دا چي هغوې په جزئياتو کي سره توپير لري خو ټول په يو کليت باورمن دي چي يو شمير خلک بايد مرجع وي او نور پاتی ټول متقلدين.